# د افغـــــانستان اســــلامي امــــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقــــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست


**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز ؤ ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۱۰/ جمادی الأول /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۳ /قوس /۱۴۰۲هـ، ش**

# د مریض د پوښتنې فضیلت او د هغې آداب

الحمد لله الذي هدانا لما يحبُّ ويرضـى، وجعل من السـنن المؤكدة عيادة المرضـى، والصـلاة والسـلام على نبيه المصطفى، وعلى آله وصحبه ومن ارتضى، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى :{وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ . وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ . وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ . وَالَّذِي أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ} الشعراء: (۸۲)

د مریض پوښـتنه کول په مسلمان ورور باندې د مسلمان حق دی ، دمریض پوښـتنه مستحب عمل دی او اسلام دې کارته ترغیب ورکړی ، ترڅو مریض د بیمارۍ په وخت کې د اسـلامي ورور ګلوۍ روحیه احسـاس کړي ـــ لکه څنګه چې د مریض پوښـتنه کول د مریض دردونه کموي او په مریض کې د وروړګلوۍ احساس ژوندی کوي او کله چې ویني چې وروڼو یې دده دصـحت لپاره لاسـونه د الله دربارته په دعا اوچت کړي دي او ژبې یې په عاجزۍ او زاریو له الله نه مرسته غواړي، نو د وروڼو دا تسلې او ډاډینه د هغه زړه له خوشحالۍ ډکوي او په الله یې تکیه او باور زیاتیږي . د مریض په پوښتنې سره د مریض مینه او محبت زیاتیږي او د هغه دردونه سپکیږي .

د صحابه کرامو او تابعینو رضي الله عنهم عادت ؤ چې کله به څوک له مجلس څخه څو ورځې غائب شو هغوی به یې پوښتنې ته ورتلل چې هغه ولې غائب دی که چیرې په سفر به تللی ؤ دعاء به یې ورته کوله او که به مریض ؤ نو دهغه عیادت به یې کولو. امام اعمش رح فرمایې چې زمونږ څخه به کله څوک دری ورځې غائب شـو مونږ به یې په اړه پوښتنه کوله که چیرې به مریض ؤ مونږ به عیادت لره ورتللو.

د یو مسـلمان پر بل مسـلمان شـپږ حقوق دي چې یو د هغې نه د هغه پوښـتنه کول دي کله چې مریض شـي.په حدیث شـریف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ:حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ : قِيلَ : مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ ، وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ ، وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ ، وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ فَشَمِّتْهُ ، وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ ، وَإِذَا مَاتَ فَاتْبَعْهُ. أخرجه أحمد ۳۷۲/۲ ومسلم ۵۷۰۲.

ترجمه:- دابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي د یو مسلمان پر بل مسلمان شپږ حقوق دي، وویل شو هغه کوم دي ای د الله رسوله؟ نبي علیه السلام وفرمایل: کله چې ورسره مخامخ شی سلام ورباندې واچوه او چې کله دعوت درکړي هغه قبول کړه او چې کله درڅخه نصیحت وغواړي ورته

نصيحت وکړه او کله چې پرنجی وکړي او الحمدلله يي وويله ورته د پرنجې جواب ورکړه( يرحمک الله ورته ووايه) او چې کله مريض شي پوښتنه يې وکړه او چې کله مړشي جنازې ته يې ورشه.

۱- همدا راز رسول الله صلی الله عليه وسلم د مريض په پوښتنه امر کړی دی.

عن البراء بن عازب رضي الله عنه، قال : (أَمَرَنَا رسول الله صلى الله عليه وسلم بِعِيادَةِ المَرِيضِ) متفق عليه

ترجمه:- له براء بن عازب رضـي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسـول الله صـلی الله عليه وسلم موږته د مريض د پوښتنې امر وکړ.

۲- د مريض پوښتنه د الله د قرب او نزديکت او خاصی توجه باعث ګرځي. عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (إِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ يقُولُ يَومَ الْقِيَامَةِ يَا ابْنَ آدَمَ : مَرِضتُ فَلَمْ تَعُدْنِي قَالَ : يَارَبِّ كَيْفَ أَعُودُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ؟ قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ عَبْدِي فُلَانَاً مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ ، أَمَا عَلِمتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِي عِنْدَهُ ) . الجمع بين الصحيحين للحميدی-

ترجمه:- له ابوهريره رضـي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسـول الله صـلی الله عليه وسلم وفرمايل: پرته له شکه الله جل جلاله د قيامت په ورځ فرمايي :ای د آدم زويه زه مريض شوم او تا زما پوښتنه ونکړه ( بنده وايي ) څرنګه سـتا پوښـتنه وکړم حال دا چې ته دعالميانو پروردګار يې ؟ الله تعالی فرمايي : آيا پوه نشـوې چې زما فلانی بنده مريض ؤ او تا يې پوښتنه ونکړه آيا نه پوهيدې که تا د ده پوښتنه کړې وای، نوزه به دې هم له ده سره موندلی وای .

امام نووي ددې حديث په شـرح کې وايې: قَالَ الْعُلَمَاء : إِنَّمَا أَضَـافَ الْمَرَض إِلَيْهِ سُـبْحَانه وَتَعَالَى ، وَالْمُرَاد الْعَبْد تَشْرِيفًا لِلْعَبْدِ وَتَقْرِيبًا لَهُ . قَالُوا : وَمَعْنَى ( وَجَدْتنِي عِنْده ) أَيْ وَجَدْت ثَوَابِي وَكَرَامَتِي . شرح صحيح مسلم ۳۷۱/۸.

ترجمه:- امام نووي وايې چې علمای کرامو ويلي دي چې الله تعالی د مرض نسبت ځان ته وکړ حال چې بنده مريض وي دا ددغـه بنـده د عزت او کرامت په وجه او الله تعالی د نږديکت له امله ځکه خو دوی وايې چې ددې جملې معنا داسې ده: (وجدتني عنده) يعنی زما ثواب به دې د هغه بنده په خوا کې موندلی ؤ.

۳- د مريض پوښـتنه د نعمتونو سـبب ګرځي.عن ثوبان رضـي الله عنه عن النبي صـلى الله عليه وسـلم قال : ( إن المُسلِمَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ المُسلِمَ لَم يزَل فِي خُرفَةِ الجَنَّةِ حتى يرجِعَ قِيلَ : يارَسُولَ اللهِ ! وَمَا خُرفَةُ الجَنَّةِ؟ قَالَ : جَنَاهَا) . رواه مسلم

ترجمه:- له ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : کله چې مسلمان د مسلمان ورور د مريضی پوښتنه وکړي، هغه هميشه د جنت په خرفه کې دی، ترڅو ورځنې راستون شي ورته وويل شول ای د الله رسوله ! د جنت خرفه څه ده ؟ ويې فرمايل: د جنت باغ دی .

**۴- ځوک چې د مريض پوښتنې لره ورشي اويا زره ملائکې ورته تر ماښام پورې دعاء غواړي.عن علي رضي الله عنه قال : سمعت رسول الله عليه وسلم يقول :( مَامِن مُسلِمٍ يعُودُ مُسلِماً غُدوَةً ؛ إلاّ صلى عَلَيهِ سَبعُونَ ألفَ مَلَکٍ حتى يمسِيَ، فَإن عَادَهُ عَشِيةً إلاَّ صَلَّى عَلَيهِ سَبعُونَ ألفَ مَلَکٍ حتى يصبِحَ، وَکَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الجَنَّةِ). رواه الترمذي**

**ترجمه:- له علی رضـي الله عنه څخه روايت دی وايي: له رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم څخه می واوريدل چې فرمايل يې : هيڅ داسـې مسلمان نشته چې سهار د مريض پوښتنه وکړي مگر دا چې اويا زره پرښتې ترماښامه ورباندې درود وايي : ( دعا ورته کوي ) او که ماښام يې پوښتنه وکړي، نواويا زره پرښتې تر سهاره ورته دعا کوي او د هغه لپاره به په جنت کې باغچه وي .**

**۵- ځوک چې د مريض پوښتنې لره ورشي رحمت وربانديې نازليږي او ښښنه ورته کيږي. عن عُمَر بن الحَکَم بن رافع الأَنْصَارِي ، قال : سَمِعْتُ جابرَ بنَ عَبْد اللهِ ، قال : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ:(مَنْ عَادَ مَرِيضًا ، خَاضَ فِي الرَّحْمَةِ ، حَتَّى إِذَا قَعَدَ اسْتَقَرَّ فِيهَا).أخرجه البُخَارِي ، في الأدب المفرد ۵۲۲.**

**د عمربن الحکم بن رافع انصاري رح څخه روايت دی هغه وايې ما دجابربن عبدالله رضي الله عنه څخه اوريدلي دي هغه وايې ماد نبي عليه السلام څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: ځوک چې د مريض پوښتنې لره ورشي په رحمت کې داخل شي تر دې پورې چې کله هغه کيني په رحمت کې استقرار پيدا کړي.**
**عَنْ مَرْوَانَ بْنَ أَبِي دَاوُدَ ، قَالَ : أَتَيْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ ، فَقُلْتُ : يَا أَبَا حَمْزَةَ، إِنَّ الْمَکَانَ بَعِيدٌ ، وَنَحْنُ يُعْجِبُنَا أَنْ نَعُودَكَ، فَرَفَعَ رَأْسَهُ ، فَقَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ:أَيُّمَا رَجُلٍ يَعُودُ مَرِيضًا ، فَإِنَّمَا يَخُوضُ فِي الرَّحْمَةِ ، فَإِذَا قَعَدَ عِنْدَ الْمَرِيضِ غَمَرَتْهُ الرَّحْمَةُ ، قَالَ : فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ، هَذَا لِلصَّحِيحِ الَّذِي يَعُودُ الْمَرِيضَ ، فَالْمَرِيضُ مَا لَهُ ؟ قَالَ : تُحَطُّ عَنْهُ ذُنُوبُهُ). أحمد ۱۷۴/۳.**

**ترجمه:- د مروان بن ابی داود څخه روايت دی هغه وايې چې زه انس بن مالک ته راغلم او ورته مې وويل: ای ابو حمزه ! ځای لری دی او مونږ خوښ گڼو چې ستاپوښتنه وکړو، هغه خپل سر را پورته کړ او وه يې ويل چې ما درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: هرسړی چې ديو مريض پوښتنه وکړي هغه په رحمت کې داخل شي کله چې دمريض سره کيني رحمت ورڅخه چاپيره شي. ما عرض وکړ چې ای د الله رسوله! دا اجر خو د هغه روغ سړي شو چې د مريض پوښتنه کوي مريض لره څه اجر دی؟ نبي عليه السلام وفرمايل: دهغه نه د هغه گناهونه رژيږي.**

## د مريض د پوښتنې آداب:

**د مريض د پوښتنې لپاره يو شمير ادبونه چې بايد پاملرنه ورته وشي په لاندې توگه دي :**

**۱-په مناسب وخت کې د مريض پوښتنه کول.**

ځینې وخت مریض دعملیات خانې څخه لا راوتلی نه وي چې خلک پوښــتنې لره ورځې، بلکې په داســې وخت کې مریض پوښـتنه په کار ده چې مریض د شـدید حالت څخه لږ څه ښـه شـوی وي او دکورخلک هم د میلمه پالنې ته وخت ولري.

په حدیث شـریف کې راځي:(عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ:كَانَ النَّبِيُّ صلى الله علیه وسلم لاَ يَعُودُ مَرِيضًا إِلاَّ بَعْدَ ثَلاَثٍ). ابن ماجة (١٤٣٧).

ترجمـه:- د انس بن مالک رضــي الله څخه روایت دی هغه وایې چې نبي علیه الســلام به پس د درې ورځو څخه وروسته د مریض پوښتنه کوله.

۲- د مریض څخه د هغه د حالت پوښتنه کول. دا د عیادت او مریض پوښتنې آدب دی چې د مریض څخه د هغه د حالت پوښــتنه وشــي. عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ ، قَالَ: لَمَّا أُصِيبَ أَكْحَلُ سَعْدٍ ، يَوْمَ الْخَنْدَقِ ، فَثَقُلَ ، حَوَّلُوهُ عِنْدَ امْرَأَةٍ ، يُقَالُ لَهَا : رُفَيْدَةُ ، وَكَانَتْ تُدَاوِي الْجَرْحَى ، فَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله علیه وسلم إِذَا مَرَّ بِهِ ، يَقُولُ : كَيْفَ أَمْسَيْتَ ؟ وَإِذَا أَصْبَحَ : كَيْفَ أَصْبَحْتَ ؟ فَيُخْبِرُهُ. أخرجه البُخَارِي ، في الأدب المفرد١١٢٩ .

ترجمه:- دمحمد بن لبید څخه روایت دی هغه وایې چې کله اکحل سـعد د خندق په غزوه کې زخمي شــو او حالت سخت شو، هغوی هغه د رفیده نامې ښځې کورته یوړ رفیده به د زخمیانو تداوي کوله. کله به چې نبي علیه السلام په هغه تیریده ورته به یې ویل: ورځ دې څرنګه تیره کړه؟ او چې کله به یې په سـهار کې پوښتنه کوله ورته به یي ویل: شپه دې څرنګه تیره کړه؟ بیا به هغه ورته خبر ورکولو.

۳- مریض ته د صحت دعاء کول او مریض په دې دم باندې دمول. عن عائشة رضي الله عنها أن رسول الله صلى الله علیه وسلم كان إذا عاد مریضا يقول: (أَذهِبِ البَأسَ رَبَّ النَّاسِ، اشـفِهِ أنتَ الشَّافِي، لاَشِفَاءَ إلاَّ شِفَاؤُکَ، شِفَاءً لاَیغَادِرُ سَقَمَاً) . رواه مسلم

ترجمه:- له عایشـې رضـي الله عنها څخه روایت دی، چې کله به رسـول الله صـلی الله علیه وسلم د رنځور پوښتنه کوله، نو هغه ته به یي ویل: ای د خلکو پروردګاره!هغه ته شفا ورکړه، ځکه چې یوازې ته شفا ورکوونکی یې، ستا له شفا پرته هیڅ شفا نشته، هغه شفا چې په بدن کې هیڅ درد نه پریږدي.

۴- مریض ته د صبر په اجر توصـیه کول. دا د مریض د پوښتنې ادب دی چې مریض ته ووایې چې په مرض صبر کول لوی اجر لري ، صبر کوه ، الله تعالی درته صحت او اجر درکړي.

الله تعالی فرمايلي دي: {وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ. الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ. أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ } البقرة: (١٥٧)

په یو حدیث شریف کې راځي: (عن أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم:إِذَا ابْتَلَى اللَّهُ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ بِبَلاَءٍ فِي جَسَدِهِ ، قَالَ اللَّهُ لِلْمَلَكِ : اكْتُبْ لَهُ صَالِحَ عَمَلِهِ الَّذِي كَانَ يَعْمَلُهُ ، فَإِنْ شَفَاهُ ، غَسَلَهُ وَطَهَّرَهُ ، وَإِنْ قَبَضَهُ ، غَفَرَ لَهُ ، وَرَحِمَهُ). مسند أحمد

ترجمه:- انس بن مالک رضي الله عنه فرمايې هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي کله چې الله تعالى يو مسلمان بنده د هغه په جسم کې په يو مصيبت باندې مبتلا کړي ، الله تعالى ملائکې ته ووايي: ده لره دده هغه صالح عمل وليکه هغه چې ده کولو که چيرې روغ يې کړ دا به ووينځي او پاک به يي کړي او که چيرې وفات يي کړ، ببنښه به ورته وکړي او رحم به ورباندې وکړي.

**۵-** د مريض څخه کم سوالونه کول. ځينې خلک عادت لري چې د مريض څخه دومره زياتې پوښتنې شروع کړي چې مريض په پوښتنو ستړی کړي. له مريض څخه زياتې پوښتنې کول نه دي په کار.

يو ځل عمربن عبدالعزيزرح مريض شو. يو کس يي پوښتنې ته راغی له هغه څخه يې د هغه د مرض پوښتنه وکړه هغه ورته معلومات ورکړل. هغه سړي وويل: ددې مرض نه څوک نه دي جوړ شوي، فلانی هم په دې مرض مړ شو او فلانی هم په دې مرض مړ شو. حضرت عمر بن عبدالعزيزرح ورته وويل: کله چې د مريض پوښتنې ته ورتللې نو ده ته د مرګ زيری مه ورکوه او کله چې ووتلې بيا زمونږ پوښتنې لره رانشئ.

**٦-** مريض ته صحت او اميد خبری کول په کار دي.کله چې څوک دمريض پوښتنې لره ورشي په کار ده چې هغه ته د اميد او صحت زيری ورکړي او ورته ووايې چې ان شاء الله زر دی چې جوړ به شئ .

په حديث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: إِذَا دَخَلْتُمْ عَلَى الْمَرِيضِ فَنَفِّسُوا لَهُ فِي الأَجَلِ فَإِنَّ ذَلِكَ لاَ يَرُدُّ شَيْئًا وَهُوَ يَطِيبُ بِنَفْسِ الْمَرِيضِ).أخرجه ابن ماجة (١٤٣٨) والترمذي ٢٠٨٧.

ترجمه:- د ابوسعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: کله چې داخل شوئ په مريض؛ نو لری باسئ دده څخه اجل ، بيشکه دا هيڅ شی نشي رد کولی خو دا خوشحاله کوي زړه د مريض.

**٧-** له مريض دعاء غوښتل. د مريض د پوښتنې بل آدب دادی چې له مريض څخه دعاء وغوښتل شي؛ځکه چې مريض مضطر دی او دمضطر دعاء مستجابه وي.

(عن عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ، قَالَ : قَالَ لِي النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: إِذَا دَخَلْتَ عَلَى مَرِيضٍ ، فَمُرْهُ أَنْ يَدْعُوَ لَكَ ، فَإِنَّ دُعَاءَهُ كَدُعَاءِ الْمَلاَئِكَةِ).أخرجه ابن ماجة (١٤٤١).

ترجمه:- د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې پرمریض ور داخل شوی ورته ووایه چې درته دعاء وکړي، بیشکه دمریض دعاء لکه د ملائکو ددعاء په څیر ده.

**۸**- د مریض پوښتنه به خاص دالله د رضا لپاره کوي نه د دنیوي مصلحتونو په خاطر او نه دا چې ځان له ملامتیا وژغوري، بلکې د وروړګلوی د حق لپاره به یې پوښتنې ته ورځي .

**۹**- د مریض سره به ډیر نه کینی ، ترڅو په مریض او دهغه په کورنی سخته تمامه نشي، خو که پوه شي چې مریض د ده په کیناستو خوشالیږي . بیا دې زیات کیني .

**۱۰**- د مریض لپاره دې په مأثوره دعا او یا نور څه دعا وغواړي .

**۱۱**- د پوښتونکي لپاره مستحب دي چې مریض ته آساني ورته یادې کړي مثلا ووایي :( لابأس علیک، طهور إن شاء الله)، یعنی هیڅ پروامه کوه جوړیی که الله غوښتی وي . پیغمبر صلی الله علیه وسلم به په دې الفاظو د مریض پوښتنه کوله .

**۱۲**- د غیر مسلمان پوښتنه هم روا ده ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د یوه یهودي هلک لیدوته ورغی او بیا یې اسلام ورته وړاندې کړ او هغه مسلمان شو او داهم یو انساني شخصیت ته د اسلام احترام او ځوانمردي ده.